داکترحمت زیرکیار 2018/10/9

# پـلورالیزم + سیـکـولـریزم = د اسـلام پـرمـخـتـیـا
# د دسـتـورالـمـدیـنـي په رڼـا کې

(لومړی برخه)

**سیکولریزم د آزادۍ او آزادي د سیکولریزم او دواړه د ولسواکۍ لپاره لکه نوک او ورۍ دي. سیکولر(خاورین)انسانان غیر دیني دي، خو د دین په ضد نه دي. که دین او ساینس(علـم) ځنګ په ځنګ ودروو، ساینس به د سیکـولـریـزم په خوا کې ودرېږي.**

**امریکایي خطیب او آزادفکره شخصیت رابرټ ګرین اِینګرسُل سیکولریزم د «روښانفکرۍ خپلواکۍ اعلامیه» ګڼي – هغسې اعلامیه چې انسان د زورزیاتي، ضعف، ناپوهۍ، ناروغۍ او غربت له منګولو نه راوېستلی شي.**



سیکولریزم ته خاورین بشریت هم ویلی شو. یو څه هغه مهال سیکـولـر وي چې عـبادت یې نه کېږي، بې پـردې وي، عـوض کـېدا، نیـوکه او قـضاوت مني. سیکـولـریزم د اتلسمې زېیزې پېړۍ له رونفکرۍ نه الهام واخیست چې د دولت، ټولنې، او اخلاقو په موضوعـګانو یـې ټینګار کاوه. سیکـولـر کلـچر په تـنوع ولاړ وي، نه په ځانګړتیا! په سیکولر کلچر کې دیني عـقـېدې د سیکولر عـقیدو(سیاسي، اقتصادي، فلسفوي) په وړانـدې کوم امتیاز نـلـري او له عامه نیـوکې نه ځان مصون.

## یو څو تخنـونکي خبرې

د کابل پوهنتون استاد، شاعر، دافغانستان د بهرنیو چارو وزیر او صدر اعظم محمد موسی شفیق(کامه ۱۹۳۲تر ۱۹۷۹ پلچرخی زندان) لکه چې په افغانستان کې مخکې له مخکې د اسلامي ګوندونو اوډلو کرغېړنوسیاستونو ته پام و او د اسلام پیغامبر یې داسې مخاطب کړی وو:

درنه ځارشم سرراپورته کړه یوځلې.......په اشنا جاموکې ورک یې ستا پیغام کړ
په اسانه پکې سا وېستل محال دي..........هومره تنګ یې ستا هغه پراخ نظام کړ

ډاکتر رحمت ربی زیرکیار(راوېستونکی)، ملنګ جان: د بې درباره ملي ژبې ملي شاعر. خپرندوی: ټول افغان. سانتا باربرا،کلیفورنیا: کب ۱۳۷۳لمریز/فبروري ۱۴۱۵/۱۹۹۵ روژه.

د یو«ضعیف» حدیث له مخې:«د عالِم په قلم کې رنګ د شهید له وینې ډېرسپېڅلی دی». خو بنسټګرو(افراطي) اسلامي سازمانونو په قلم کې د رنګ په ځای، ډېرې وینې وبَیَولې!ولولئ:

Prof. of History Rudolph Ware, “Timbuktu: The Ink of the Scholar and the Blood of the
Aug 31, 2012) [27 November 2017]. Islamweb.net calls the Martyrs,” (huffingtonpost.com
hadith “weak.”

د ۱۹۹۲زییزکال په اپرېل کې چې په افغانستان کې پرولـیتاریات لاړ، ځای یې مُـلاتاریات ونیواو په کابل کې یې شرعي فتوه راووېستله: «د ښځو مکتبونه د زنا مـرکـزونـه». ورپسې چې طالـب تاریات برلاسی شو،هـرڅه به یـې په خـپـلــو زیـړو کتابونوکې لټول؛ عملا حمام د مېرمنو لپاره حرام واو بې ږیـرتـیا د سـړي لپاره.

بیا به وګورې په لمرکې به دې کوروي...که خدای خلاص کړې کمربند اوله ټوپکه! سعود بنګښ: لرافغانستان، مارچ ۲۰۱۸


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

«عوام دین حقیقي ګڼي، پوه خلک یې غلط، او واکمنان یې ګټور.».- رومن فیلسوف، دولتمدار او تـوکي سینیکا(۴قبل المیلاد تر ۶۵ میلادي).
«ماته داسې برېښي چې اسلام،عیسویت او یهودیت ټول یو خدای لري خو هغه [هسک څښتن] هر یو ته بل څه وای.».- بیلي کانُولي:سکاټلنډی ټوکي او هنرمند.
«په افریقا کې یوه مشهوره قیصه ده چې هلته د [غربي] عیسوي دیني مبلغینو په راتګ راڅرخي: هغوی[عیسوي دیني مبلغینو] انجیل لاره، او موږ بومي محلي خلکو ځمکه لرله. هغوی وویل:,,راځئ چې دُعا وکړو,, او موږ په بښه نیت سره خپلې سترګې پټې کـړې. کله مو چې سترګې وغړولې،هغوی همدغه مهال ځموږ د ځمکې خاوندان شوي وو، او موږ د انجیل.».- ډیسمونډ مپیلو ټوټو په سهیلي افریقا کې نامتو تور پوټکی مشرعیسوي مولوي،هلته د مدني حقوقولاربنود، د نژادي تبعیض په وړاندې مبارز شخصیت، او د بې غږه ولس غږ و او دی!
«موږ[امریکې] سیکولر[خلکي]نظام او د مېرمنو حقوق په افغانستان کې ړنګ کړل، بیا مو [په اکتوبر۲۰۰۱کې] په نوي رژیم جنګ تحمیل کړچې د مېرمنوحقوق تامین کړي. د امریکې امپراتورۍ ته ښه راغلاست.» Larry Kumar fabiusmaximus.com (20 November 2009) [18 November 2017].



د امریکې د یرغل په لومړیو شپږو کې د یورانیم داستعمال له امله د ختیز افغانستان په توره بوره غرونو کې د جبري/ناڅاپي انقطاع نمونه: بلاربې مېرمنې او بـزې وروسته له ۳تر۴ میاشتو خورا معیوب زوزات زېږوي. دا ده د جنګ د جنایتونو څرګنده نمونه!
Uranium munitions victims: spontaneous abortion

«هغه ایمان/عقیده چې قدرت ته ډډه لګوي، ایمان نه دی. په قدرت اعتماد د دین نزول تلي.».- امریکایي وینا وال، شاعر او لیکوال رَلف والدو اِمرسن ( ۱۸۰۳ تر ۱۸۸۲)
Ralph Waldo Emerson
عیسی(ع) «مړي ژوندي کړل اوړانده یې بینا کړل. خو سره له دې، بې عقلان یې عاقل نشوکړلی .».-خوشحال خټک بابا

## پلورالیزم یانې څه؟

په پیل کې باید په «پلورالیزم»( د بیلابیلوخلکو او عقیدوپه همژوند تیا) وګړېږم: پلورالیزم له ډېر پخوا راهیسې شته وځکه د سولې او پرمختګ لپاره ګټورو.پلورالیزم روغې همزیستی ته لار هواروي. غټه دینپوهه برتانوي مېرمن کارېن ارمسترانګ وایي:«لومړی څه چې زما پام یې پلورالیزم ته راوګرځولو، اسلام و. واقعیت دا دی چې اسلام د تېروخت د تولوغټو پیغامبرانو ستاینه کوي.» په هیند کې مسلمان مغل امپراتور جلال الدین محمد اکبر(۱۵۵۶تر۱۶۰۵م واکمن) به د هیندوانو او نورو دیني شخصیتونو سره مشوره کوله. هغه هڅه وکړه چې ګڼ کلتوري او بین الدیني دولت جوړکړي. اکبر له زغم او تحمل نه اخوا لاړ او هڅه یې وکړه چې دیني اختلافونه لرې کړي او دهیند لپاره یو بل دین راوباسي. اکبر
یو «عبادتځای» جوړ کړ او هلته به یې د نورو دینونو عالمان رابلل. ډېرو خلکو به «مرتد» ګڼلو. په ۱۵۷۹م کې د یو «مظهر»(اعلامیې) له لارې اکبر ته د دې اختیار ورکړل شو چې د مُلایانو په ځای پخپله دیني قوانین تفسیر کړي. په ۱۵۸۲ کې یې د «دین الهي» په نوم یو نوی آیین راووېست او په هغه کې یې د ډېرو دینونو عناصر راغونډ کړل. اکبر د دغه ډول دین معنوي مشر و، خو په


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دې بريالی نشو چې ډېر پيروان مينده کړي. امپراتور جلال الدين محمد اکبر د خپلې زماني په شرايطو کې پلوراليست مفکر اوعملګر و. ولولئ:
“Akbar the Great,” biography.com (2 April, 2014) [31-8-2018].
پلوراليزم يو ټولنيز تنظيم دی چې بېلابېل نژادي، قومي، ديني او کلتوري ډلې پکې يوبل زغمي. په ۶۲۳ کلنه عثماني امپراتورۍ (۱۲۹۹تر۱۹۲۲م) کې هم د غيراسلامي ديني او قومي لړکيانو سره لږوډېر سيکولر سلوک شوی و.

د دين په اړه کميَتي او قضاوتي معلومات

د «ادهېرېنتس»(پيروانو) د غيرديني،خپلواک سازمان د معلوماتو له مخې په نړۍ کې نږدې ۴۳۰۰ دينونه شته دي. ټول يې بېلابېلي اندازې اوشمېرنې لري. د نړۍ نږدې ۷۵٪ خلک د ۵ خورا متنفذو دينونو له ډلې نه، يو دين غوره کوي: يهودي، عيسوي، اسلامي، بودايي، هيندويي. اسلام او عيسوي دينونه د نړۍ په ډېرو برخو کې خپاره شوي دي، او د نړۍ له نيمايي نه زيات خلک پرې عقيده لري.
که ټول غيرديني انسانان په يو دين راټول شي، نو د نړۍ دريم غټ دين به جوړ کړي. د غيرديني(سيکولر، اګنوستيک، اتييست) شمېر يوعشاريه يو(۱،۱) بيليون ته رسېږي. په نړۍ کې ۴۳۰۰ دينونه او ۶۸۰۰ ژبې شته دي.
(October 06, Stephen Juan, Ph.D., What are the most widely practiced religions of the world? theregister.co.uk 2006), [ July 16, 2018].
په ۲۰۷۰زېيز کال کې به اسلام د نړۍ ترټولو دينونستر دين وي اوعيسويت به دوهم غټ دين وي.

په نړۍ کې له ۴،۵ بيليون ډېر انسانان دين ته منسوب دي، او ۱،۱ بيليون يې غيرديني دي. د «پوسټ - سيکولر» لفظ په ټولنپوهنه(سوسيالوجي)، سياسي تيوري، ديني او ادبي مطالعو کې کارول کېږي. د پوسټسيکولر اصطلاح په رواجولو کې جرمن مفکر يوهاند يُورګېن هابرماس رول لوبولی دی[ما خيرکيار د يوهاند هابرماس سره د جرمني په ګويټې پوهنتون کې د «سياسي سوسيالوجی» يو کورس ښايي په ۱۹۶۸/۱۹۶۹م کې بشپړ کړی و].
پوسټ -سيکولر(وروسته له سيکولر) يو ډول جوړجاړی دی، يا يو ډول سوله ييز ډيالوګ دی د دين او منطق په مينځ کې. يوهاند هابرماس ټينګار کوي چې دواړه خواوې (ديني او سيکولر خلک) دې د يو بل له مخنيوي نه ځان لرې وساتي او له يوبل نه دې په سړه سينه زده کړه وکړي.
کله ناکله پانګوالی، کمونيزم ، انارښيزم، نازيزم، فاشيزم او نيشنليزم ته «سيکولردين» هم ويل کېږي. په اتلسمه زيېزه پېړۍ کې فرانسوي مفکر ژان-ژک روسو(۱۷۱۲تر۱۷۷۸م) ويلي وو چې ټولنې دين ته اړتيا لري چې انسانان غبرګ/متحد وساتي. دا چې عيسويت انسانان له مادي-دنيوي موضوعګانو نه لرې کوي، روسو د «مدني دين»(سېول رېليجين) مفکوره راووېستله چې وګړي د دولت په سياسي اتحاد راچاپېر کړي. په ۱۸۴۳زيېز کې ځوان جرمن فيلسوف او اقتصاد پوه کارل مارکس(۱۸۱۸تر۱۸۸۳م) «دين د خلکواَپين» ګڼلی و. په سويس کې پروټيستانټ مولوي ادولف کېلَر(۱۸۷۲تر۱۹۶۳م) داسي استدلال وړاندې کړی و چې مارکسيزم په پخواني شوروي اتحاد(۱۹۱۷تر۱۹۹۱م) کې په سيکولر دين اوښتی و. فرانسوي ټولنيز فيلسوف ريمونډ اَرُن(۱۹۰۵تر۱۹۸۳م) کمونيزم ته د روڼ اندانو د «اپين» په سترګه کتل. ښايي هغه به ژوند له مفکورې نه لوړګڼلو؟
Raymond Aron, The Opium of the Intellectuals. London: Secker & Warburg, 1957, pp. 265-294.

## ننتوځ

## عِلم او سيکولريزم د شيطان لوبې!


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

زما دا کتاب د نورو مفکرینو او څېړونکو د نظریو او څېړنو یو لنډه هڅه ده چې لوستونکوته د هغوی دریځ او استدلال وړاندې کوي. نږدې ۲۰۰۰کالونه وړاندې رومي سیاستوال او حقوقپوه سیسرو(۱۰۶ق.م. تر ۴۳ میلادي) ویلي وو:«له هغه څه نه غافل پاتې کېدل چې ستا له زېږېدنې وړاندې پېښ شوي وو، دا معنا لري چې ماشوم پاتې شې.» نږدې ۲۰۰۰کالونه وروسته نامتو انګرېز لیکوال جورج اُورویل(۱۹۰۳تر۱۹۵۰م) داسي ویلي وو: «د خلکو د تباهی لپاره خورا اغیزمنه لار دا ده چې هغوی د خپل تاریخ له پوهېدلو نه محروم کړئ.»
زه غواړم چې ټول (لر او بر) افغان ملت ماشوم او له تاریخ نه محروم پاتې نشي.

مسلمان امریکایي، د اسلام عالم او د «زیتونیه» کالج ګډ مشرشیخ حمزه یوسف(۱۹۵۸تر...) د «اسلام او سیکولریزم» په اړه داسي وینا اورولې ده: «د سرکونو جوړول ستاسي د مذهب سره هېڅ ربط نلري...د اسلامي تاریخ خورا غټې برخې نسبتاً سیکولر[خاورین/دُنیوي] دولتونه لرل...د اسلامي دولت ټول تصور د ډېرو نوو اسلامیستانیانو په ذهن کې یو تخیل دی...پوسته خانه یو اسلامي تفکر نه دی...د دولت غټه برخه د دین سره اړه نلري...که د آتمې پېړی د سوریې او فلسطین خلک په اوسنی ناروې کې ځای په ځای شی، دغه خلک به فکر وکړي چې د عُمر ابن عبدالعزیز په خلافت کې به وي، ځکه هلته [په ناروې کې] عدالت موجود دی ځکه چې سیکولر دولت لري...که د غلولاسونه غوڅ شي، سترې مشی به څنګه کوو؟» واورئ د شیخ حمزه یوسف وینا:
[1 Shaykh Hamza Yusuf, “Secularism and Islam,” youtube.com (May 22, 2014) Oct. 2017].
پخوا به فکر کېده چې زمکه د یونیورس(عالَم/جهان) مرکز دی. خو د عِلم د پرمختګ په برکت معلومه شوه چې زمکه د عالَم یوه ډېره کوچنۍ برخه ده. لمریز نظام تقریبا ۳۶ بیلیون ځلي له زمکې غټ دی. پخوا به دین د فلسفې او عِلم سره اړخ نه لګاوه؛ باید له مینځه وړل شوي وای. د خلکو فکر د کلیسا په ولکه کې و، او عیسویت د دولت رسمي دین و. که څوک به په رسمي دین کې نه و شامل، مرتد به ګڼل کېده. پوهان او مفکران د زغملو وړ نه وو. ټول کتابونه او مفکورې مردودې وې. د مسلمان له نظره پوهه (عِلم او سیکولریزم) د شیطان لوبې ګڼل کېدل. دیني موسسه (کلیسا) [اوجومات] به د خپلو پیروانو لپاره فکرکوي او پیروان به یې کلک اطاعت کوي. خو سَوکه سَوکه(ورو په ورو) خلک د تخنیکي او فکري پرمختګ په چاپېریال کې راویښ شول[جرمن پښ/آهنګر یوهانېس ګوتینبېرګ د ۱۴۴۸م په شاوخوا کې لاسي چاپي ماشین راووېست. دغې اختراع د جرمن اعتراضچي/پروټېستانټ عیسوي مولوي مارتین لوتر(۱۴۸۳تر ۱۵۴۶م) کار اسان کړ چې انجیل ګړندی چاپ کړي او له کاتولیک عیسویت نه بېل شي].

په اروپا کې خلک په کلیسا پسې راپاڅېدل او محدوده یې کړه.[په امریکا کې د واکمنی مشروعیت د ولس له ارادې نه راووت، نه له دین نه]. دین په لویدیزه نړۍ کې شخصي موضوع وګرځېدله، نه دولتي. دغه عمل د انسانانو د فکر خپلواکی ته لار هواره کړه او دین د انسان د شخصي ژوند برخه شوه. د دین په ځای عِلم (ساینس) ودرېد چې د ژوند د اسانتیا لپاره اختراعات کوي. موږ خدای[ج] نشو لیدلی،روح نشو لیدلی؛ د تعویز او دَمَوَلو په ځای ساهپوهنه(سایکالوجي) راغله. دین په جنت، دوزخ او په بیا ژوند غرېږي. خو هیچا خدای[ج] ، جنت، یا دوزخ نه دی لیدلی. سیکولریزم په دې نړۍ کې اهمیت لري:ژوند، خوَند، دنیوي تعلیم...او نوی فکر په سیکولریزم کې شته دي. د ۱۸ زییزې پېړی په وروستیو لسیزو کې په امریکا او فرانس کې سیکولر انقلابونه او سیکولر اساسي قوانین رامینځته شول. دغو سیاسي اوسیکولر سندونو د هېوادوالو(اتباعو) حقوق تثبیت کړل. هغه څه چې عامه(پبلیک) وي، عبادتځایونه پکې ګوتې نشي وهلی. دغو انقلابونو د فکر آزادۍ ته لار پرانیستله. سیکولریزم له دین نه بېل شو، خوعِلم او سیکولریزم غبرګ شول. واورئ د نعمان


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

علي خان وينا(نوموړی مسلمان امريکايي دی، د «باينه»اِنستيټوټ موسس او مشر دی او هلته عربي ژبه او قرآني مطالعات تدريسوي. دا چې ځان «خان» معرفي کوي، د لر افغانستان (پښتونخوا پښتون)افغـان بـــه وي. Nouman Ali Khan, ”Secularism in Islam”,(youtube.com) 6 February 2017)[2 October 2017].

[يــو پاکستاني ديني عالم ډاکتر اسرار احمد په سيکولريزم باندې د «دجاليت» ټاپه وهـلـې ده او «د خدای په وړاندې غټ بغاوت»يې ګڼلی دی. يو بل عنوان يې داسې غوره کړی دی:«په قرآن کې د پاکستان ذکر»(«پاکستان کا ذکرقرآن مين»].ولولئ او واورئ:

Dr. Israr Ahmad, Secularism The Most Powerful Form of Dajjaliyat(13 August 2013)[11 October 2017]; “Pakistan Ka Zikr Quran Main”(youtube.com August 13, 2016)[6 October 2017].

پاکستان بې له تاريخي ډکـون نه د دلال دولت(کُمپرادور سټېټ) په حيث د انګريزد ګټو لپاره راتـوږل شوی دی او د انګريزانو په امريې د افغانستا په خاوره خېټه اچولې ده. د کيوبا له ولسمشرفيډل کاسټرو(۱۹۲۶تر ۲۰۱۶ز)نه واورئ: د امريکې ولسمشر بارک اُباما «په هېڅ ډول نـشي پټـېدلی چې اُساما بن لادن دخپلو ماشومانو او ميرمنو په مخ کې په اسلامي پاکستان کې ووژل شو [۲۰۱۱]....د پاکستان په قوانينو تيری وشو،او ملي عزت او ديني عنعنه يې سپک شول.»-دي ګارډيين.کام(۲۰۱۱-۵-۵)[ ۹ اکتوبر ۲۰۱۷، ].

غير ديني چارپوهان په دې عقيده دي چې سيکولريزم په جريان او بدلون کې دی، خو دين په ځان مېخونه وهلي دي؛ په سيکولريزم کې د نړۍ پرله پسې معلومات او بـدلـون اهميت لري، خوپـه دين کې د خدای(ج) او آخرت معـلومات جګ مقام لـري. ځما(ځيرکيار) په فکـر، د دواړو اړخـونـو چارپوهان بايد په متـقابل درناوي

سره د يو بل استدلال ته په سړه سينه غوږ ونيسي. اوس به د «دستورالمدينه»په موضوع سريز بحث وکړم.

د «دستورالمدينه»(۶۲۲زييز=اهـجري) په ډکون کې ګډه مفکوره له وينې اوعـقيدې نه لوړه ترسيم شوې ده او فردي مسوليت پکې اهميت لري. دستورالمدينې ته د جمهوري نظام ليکلی اساسي قانون هم ويلی شو. دستورالمدينې ته صحيفه المدينه، ميثاق المدينه او وثيقه المدينه هم ويل کـېـږي. دغه ورته نومونه په اجتـهاد ولاړ وو، نه په وحې. د مدينې اساسي قانون شپږ پېړۍ د انګريزانو له «مَګنا کارتا»(فرمان،منشور،اساسنامې:۱۲۱۵م) نه، نږدې ۱۲ پېړۍ د امريکې (سپتمبر ۱۷۸۷)او فرانسې(سپتمبر ۱۷۹۱) له اساسي قوانينو نه، او څه د پاسه ۱۳ پـېـړۍ (۱۹۴۸م) د بشر د حقوقو له اعلاميـې نه وړاندې په ليکلي ډول رامينځته شوی و. ولولئ په الجزاير کې د يو محصل د ماسټرې تېـزس:

Bouziane Mounira, Comparison between the Constitution of Medina and the Constitution of the United States of America.( Master Degree: 2013-2014) at Larabi Ben M’Hidi University, Oum El Bouaghi.

هغه مهال په عربستان کې کاغـذ موجـود نه و؛ بلکې په ځای به يې د مطالبو د ثبت لپاره د څارويو او خرما پوټکي کارول کېدل. مدينه بين الـقومي ټولنه وه او دستورالمدينه يې ليکلی اساسي قانون و چې په مساواتو ولاړ و، نه په امتيازونو. دستورالمدينه د «محّمد ابن عبدالله»له خوا لاسليک شوی و، نه د محّمد «رســول الله» لــه خواـ ځکه چې په «مـدني ټـولنه کې يـو هم ځای نـلري.» همدغــه اثر: ۱۲۶ مخ. يثـرب د فساد او تهمت معنا لرله.

له دې امله محّمد(ص) د دغه نوم په ځای «مدينه»غوره کړ. يثرب ۳ ځلې په دستوالمدينه کې ذکرشوی و او مـديـنـه (ښار) يو ځلې په اخره ماده کې (۸۲ مخ).



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

مــدینه بین الاقـوامي تړلـنه وه او دستورالمدینه یی رسمي اعلامیه او اساسي قانون و ځکه چې د وګړو حقوق او مسولیتونه پکې خونـدي شوي وو. په دغه لاسوند(سند) کې د خپلې زمانـې ژور سیاسي، قانوني، ټولنیز، عسکري او اداري کفایـتونه پراته وو او د ګډ سـولـیز ژوند چاپېریال یـې جوړ کړی و. زما[ځیرکیار] په اټکل وروسته له دستورالمدیني، د امریکې د خپلـواکې د اعـلامیې (۴ جـولای۱۷۷۶زییز=۱۴چنګاښ۱۱۵۵لمریز=۱۷جمادل اولا ۱۱۹۰هجري سپومیز) متن انساني وړمه لري: «ټول انسانان مساوي خلق شوي دي او د خپل خالق له خوا پرې پـېرزوینـه شوي ده چې ځینې ثابت حقوق ولري لکه ژوند، آزادي او د خوښۍ تعقیب. د دغو حقوقود خوندي کولو لپاره د انسانانو په مینځ کې واکمنی [حکومتونه] جوړ شوي دي چې خپل مشروع قـدرت د هـغـوی[اتباعو] له توافـق نه لاسته راوړي....دا د اتـباعو حق دی چې مطلق العنان حکومتونه رانسکور کړي.»

په قـرآن مجید کې راغـلـي دي: الـذی عـلَمَ بالقـلَمِ:الله خلکو ته په قـلـم ښودنه کـوي[نه په ځان چاودنه]! جرمن مولوي یوهان فریدریـښ څـولنر خپل هېـوادوال فیلسوف ایمانوېـل کنټ (۱۷۲۴تر ۱۸۰۴) پوښتلی و چې روڼ آنـدتیـا(تنویر) څه ته وایي؟ کـنـټ داسي ورغبرګه کړه: «روڼ آنــدتیا په ځان د تحمیل شوي عدم بلـوغ څخه د بشر د نوعي آزادي ده.»

"Aufklaerung ist der Ausgang des Menschen aus seiner selbstverschuldeten Unmuendigkeit."

په امریکا کې یو مشهور طنزلیکونکي اُرورکی «د فاحشو پارلمان» په سرلیک یو کتاب لیکلی و. دغه لیکوال لرافغانستان(پښتونخوا) ته ځي چې جـهـاد له نـږدې ووینې: افغانستان «یومـنـور»(پوهانـد بهاالــدین مجـروح) لاره، خـو هـغـه هـم ووژل شو.P. J. O'Rourke, Parliament of Whores: A Lone Humorist Attempts to Explain the Entire U.S. Government. Grove Press: January 7, 2003

**(نـور بیـا)**


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ